ډاکټر ګل مرجان منګل ۲۰۱۷/۱۰/۲۳

په زور کلي نه جوړيږي!

که يو خوا د کوزی خوا پښتنو مشرانو د پنجاب لخوا په ډيورنډ لين باندې د اغزن سيم په تيرولو او د همدغه کرغيړن لين دواړو خواوو ته پراته قومونه عملاً په دوه ټوټو ويشلو باندې چپه خوله دي بل خوا د کابل مشرانو هم ځانونه کانړه او ړانده اچولی دی، يو غوږ يې برستن او بل يې لمخی کړي سترګې يې پټې کړي دي، ګمان کيږی چی د برې خوا مشران يو قدم نور هم وړاندې تللی وی هغه دا چی پنجاب ته يې خپله خاوره چی د ناموس حيثيت لری ښلي وي دا ځکه چې د کابل مشران د لويی لوبی هغه د سون توکی دي چی په همدې خاطر ګمارل شوی دي. خو ښکته او پورته ټول مشران همدارنګه پنجاب بايد پدې پوهه شی تر هغه چی د ولس خوښه نه وی که سل کاله نور هم تير شی دا ولس په اغزن سيمونو څه چی په فولادي ديوالونو هم څوک نه شی جدا کولای دا ځکه چی دا يو قوم دی درد يې يو دی وينه يې يوه ده ژبه يې يوه او کلتور يې يو دي .

ستا به د ګلو دوران تير شی

زما به پاتې شی په زړه سوی داغونه

« لرو او برو مشرانو تاريخ به مو سخت محکمه کړی نور مو خوښه»

لکه چی پورته هم اشاره وشوه ګمان کيږی چی اشرف غني د پاکستان سره د ډيورنډ پر لين هوکړه کړی وی د پنجاب سره يې همدغه لين د رسمي سرحد په حيث پيژندلی وي.

اشرف غنی او نورو مشرانو به داسی فکر کړی وی چې که افغانان د ډيورنډ څخه تير شی زموږ په هيواد کې به جګړه چی نړدې څلويښت کاله کيږی روانه ده پای ومومي، خو اشرف غنی بيچاره تير وتنه کوي همدارنګه اشرف غنی افغانان په ځانګړی توګه بيا پښتانه بلکل نه دي پيژندلي، پښتانه هغه قوم دی چی کرايه کيږی خو خرڅيږی نه، که په پښتانو کی يو څو ک سل کاله وروسته هم خپل غچ واخلی وايی چی بيره يې کړی ده، پښتانه به هر څه خرڅ کړی خو خپله خاوره چی د ناموس حيثت لری نه خرڅوي.

که اشرف غنی او ناست حکومت پر ډيورنډ باندې د پنجاب سره مامله نه وای کړی نو څنګه کيدای شی چی پنجاب په زرهاوو ميله ازغن سيم په ډيورنډ لين تيروی، کلاګاني او دروازی جوړوی خو افغان چارواکی يې پر وړاندې سپڼ هم نه کوي ځکه خو موږ ويلای شو چی کار يې کړی دی.

دلته خبره يوازی د ډيورنډ نه ده خبره لويه ده، لويه پدې معنی چی هغه د (Great game) يا لوې لوبې لپاره ډرامه سنريو شوی ده کومه چی د افغانستان شمال او اخوا بايد ورسيږی د پخواني شوروی هيوادونه تر ولګې لاندې راوړل شی او د روس غاړې ته غاړبند واچول شی، د اړتيا په وخت کی ورڅخه کار واخلي. دا داعش په داعش کی د تاجکستان تاجک همدارنګه د اوزبکستان اوزبک چی ځای پر ځای شوی دی د ننګرهار په مختلفو ولسواليو کی جګړې کوی هغه څه دي چی لوې لوبې ته د عمل جامه ورواغوندي.

کله چی تنور ګرم شی نو هر څوک دوډۍ پکشي پخوي چی پنجاب له موقع ګټه پورته کړه په ډيورنډ يې اغزن سيم راتاو کړ دروازې يې جوړې کړی همداسی به د لوی لوبې پروژه د ابر قدرتونو لپاره پر مخ وړی تر هغه چی دا پروژه پای مومي پنجاب به لا نور ډير څه تر لاسه کړی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

موږ او زموږ حکومت چی په سر کی یی اشرف غنی قرار لری څه وکړل او څه به وکړو؟ که خلاصه او پسکنده ووایم طالبان 《طالب مشران》 او د کابل حکومت دواړه د همدغه لوبي لوبي د سون توکي دي دا ځکه چی د جګړی دواړه خوا افغانان دي موږ د جګړي په ډګر کی بل څوک نه وینو، افغانان دي چی عملاً یو بل وژنی پدې بانه چی طالب وایی 《تر هغه چی یو امریکایی په افغانستان کی موجود وی سوله به نه کوی》 بل خو امریکا وایي 《چی یو طالب د جګړي په ډګر کی ټوپک په لاس ولاړ وی موږ افغانستان تنها نه پریږدو》 .
دا نو کوم منطق دی چی دواړه خواوې یی وایی جګړي ته یی بانه جوړه کړی ده بله معنی خو نه لري بی له دي چی جګړه ګرمه وساتي؟ دا نو پدې معنی چی امریکا د کابل حکومت او طالب ټوله یو خبره ده چی په نهایي تحلیل کی داعش ته لاره همواره کوي تر څو د لوبي لوبي پلان عملي شي، نور که افغانان وژل کیږي او یا یی هیواد ورانیږی د دوی یی په څه؟!

څه باید وشي؟؟!

کله چی امریکا د کابل حکومت او طالب یوه خبره وی نو ولس ته په کار ده چی د ځان غم وخوری په ولس کی هم بیا هغه افرادو او اشخاصو ته چی ځان د کلی او قوم مشر، د قلم او نظر خاوند، مدني فعال همدارنګه نورو مخورو او نومورو ته په کار ده چی ولسونه راویښ د یو بل سره کشني یو موتی شی عملاً یی پر وړاندي ودریږي او چا ته هم اجازه ورنه کړی چی ډیورنډ رسمی پوله کړی او یا هم افغانان د سون توکی شی او افغانان قربانی ورکړی، خاوره د افغانانو لاړه شی، د جګړي ګټي نورو ته ورسیږی.

کله که افغانان د ددغه دسیسي پر وړاندي چپ پاتي کیږی دا بی ایماني ده د خپلي خاورې او ملي ګټو سره خیانت دی چی موږ یې کوو، موږ به تاریخ سخت محکمه کړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ